# په ټولنيز ژوند کې د ژبې کارونه او ارزښت

پوهندوی عوض خان دولت زی، پښتو ژبې او ادب څانګه، ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون

**لنډيز**

په ټولنيز ژوند کې د ژبې کارونه اوارزښت ببخي په ډاګه دی.انسانان چې الله تعالی پيداکړي نو دژبې او خبرو کولو توانايي هم ورکړې ده.ژبه هم دنورو مخلوقاتو په څېر يو ژوندی مخلوق ګڼلی شو. دژبې دټولنيز ارزښت په اړه دومره ويلی شو،چې له کله نه انسانان د ځمکې پرمخ پيدا او خواره شول،بشري ټولنې جوړې او پرمختګ يې وکړ نوله دې سره سم ژبه هم منځ ته راغله. دزمانې په تېرېدو سره ژبې هم وده وکړه او بېلابېلې ژبې منځ ته راغلې په دې علمي او څېړنيزه مقاله کې په ټولنيز ژوند کې د ژبې کارونه او ارزښت سربېره دژبې په ټولنيزو اړيکو،ژبه او ټولنه او دژبې د کارونې په ارزښت پوره بحث شوی د يادونې وړبولم چې د دې ليکنې موخه يوازې په ټولنيز ژوند کې د ژبې کارونه او ارزښت د ادب او مسلک مينه والو ته روښانه کول دي.د دې مقالې ليکنی ډول کتابتوني او مېتود يې تشريحي دی.

**کليدي کليمې:** ژبه، ټولنه او د کارونې ارزښت يې

**سريزه**

هر علمي اثر اوليکنه لوستونکيو ته خورا ډېر ارزښت لري،خو تر څنګ يې ليکوال ته په ليکنه کې بلا ډېرې ستونزې هم دي. په دې لړ کې مې په ټولنيز ژوند کې د ژبې کارونه اوارزښت ترسرليک لاندې مقاله غوره وګڼله، ځکه په ټولنيز ژوند کې د ژبې د کارونې ارزښت د ټولنې وګړو ته جوت دي بې له ژبې څخه په انساني ټولنه کې ژوند کول

ناممکن اوناشوني دي.ځکه همدا ژبه ده، چې انسا نانو ترمنځ يې هرراز اړيکې خوندي ساتلي او ژوند ته يې يو ډيناميزم او خوځښت ورکړی دی.ژبه يوه ټولنيزه پديده ګڼلی شو،چې دټولنيز ژوند په انکشاف او مسير کې منځته راغلې ده او دبشري فعاليت دتنظيم او انسجام يوه اغېزناکه وسيله يې بللی شو.

## موخې

د دې څېړنيزې مقالې له ليکنې څخه مې موخه داده، چې په ټولنيز ژوند کې د ژبې کارونه او ارزښت روښانه او په ډاګه شي.

د ژبې او ټولنې په خپلمنځي اړيکو بحث کول.
په ټولنه کې د مورنۍ ژبې ونډې ته انکشاف او وده ورکول.
په اړونده او موجوده ژبه باندې د ټولنې او چاپيريال اغېز لرل.
د يوې پياوړې او منظمې ټولنې په شتون کې د ژبې ارزښت او رول ته لا ځيرتيا کول.

## د څېړنې تګلاره

ددې مقالې ليکنې ډول کتابتوني اوتر ډېره پکې له تشريحي مېتود څخه ګټه پورته شوې ده .د کار ساحه مې د څېړنې په لړ کې پر راټولونه او سکښت کولو هم پر مخ وړې ده.

## مناقشه

## په ټولينز ژوند کې د ژبې کارونه او ارزښت

ژبه د الله ج له لوري انسان ته ورکړل شوې ډالۍ ده، چې په ټولنه کې يې وګړي د يو بل د پوهولو راپوهولو له پاره کاروي. د ژبې په مرسته انسان له نورو حيواناتو بېل او اشرف المخلوقات ګڼل شوی دی.ژبه د زياتو موخو له پاره کارېږي يوه دنده يې د انسانانو

ترمنځ د یوبل په رویو او خویونو باندې اغېز دی.همدا ژبه ده، چې د وګړو ترمنځ د مرستې وسیله ده.(جبارخېل،۱۴۰۱ل)

د ژبې د ټولنیز والي او کارونې په برخه کې د ډاکتر دولت محمد لودین څرګندونه کټ مټ را اخلم: (( ژبه په ارثي توګه له یوه څخه بل ته نه ځي په دې برخه کې داسې ویل کیږي چې (د مورنۍ ژبې اصطلاح) د مورزادي معنا نه لري، بلکې د دې معنا په ډول ده یعنې هغه وخت چې د مورنۍ ژبې اصطلاح استعمالیږي اوویل کیږي، چې دهغه دا مورنۍ ژبه ده معنا یې دا ده چې دغه ژبه په وړوکوالي کې له هرې بلې ژبې څخه دغه زده کړې ده)). دهر چا په شعور کې چې د ژبې د شتمنۍ پانګه انځوریږي دغه ژبنۍ پانګه شعورته له باندې څخه ورځي د انسان شعور ته هغه ژبه وررننوځي، چې په چاپېریال کې یې ویل کیږي.

هغه خلك چې په کوم چاپېریال کې ستر شوې وي او د هماغه چاپېریال ژبې یې په شعور کې ځای نیولی وي بیا نو دغه ژبه کاروي، چې د دې ژبې ویونکي ګڼل کیږي او دا ژبه به یې مورنۍ ژبه ګڼل کیږي.

دلته موضوع څرګنده شوه، چې د ژبې د پیدا کېدو سرچینه داوسېدو چا پېریال دی.

له بلې خوا که وکتل شي او د ژبې پایښت تر پاملرنې لاندې ونیول شي له دې څخه به څرګنده شي چې ژبه په شعور کې د تل له پاره پایښت نه لري، بلکې داسې هم کیږي چې یو وخت د چا کومه ژبه چې ښه یې زده وي ورباندې له خبرو کولو څخه ډډه وکړي او د ژوندانه په هېڅ برخه کې ترې کارنه اخلي تردې چې اورېدل،لیکل اولوستل ورباندې هم بس کړي په پای کې به خبره دې ځای ته ورسیږي، چې یو خو به یې خپله دغه مورنۍ ژبه هېره شي اوبله دا چې په دغه مورنۍ ژبه باندې به له فکر کولو څخه هم ولویږي.

د دغو پورتنیو لیکنو له مخې څرګندېږي، چې د ژبې پانګه د انسان په شعور کې ترهغه وخته پورې وې، چې په عملي ژوند کې ځنې کار اخلي کله چې ژبه  په عملي ژوند کې د استعمال او کار اخېستو څخه تر زیاتې مودې پورې وغورځېږي د ژبې پانګه چې په شعور کې پیدا شوې وه هغه هم له منځه ځي، په دې برخه کې په بل ډول داسې ویل کېدای شي: ژبه هغه وخت په شعور کې پانګه کېږي چې د عملي ژوندانه داړتیاوو لرې کولو وسیله وي او که نه نو دغه پانګه له منځه ځي، له دې نه څرګنده شوه چې د ژبې سرچینه په شعور کې نه ده.

د ژبې د پیداکېدو سر چینه چې د نامتو ژبپوه(ګله وین) له نظره وکتل شي ښایي له ځېنو نورو نظریو سره چې د پورتنیو نظریو سره توپیر لري مخامخ شو. په پورتني حقیقت باندې دپوهېدو له پاره لږ تر لږه دغو دوو پوښتنو ته ځواب ورکول اړین بولو: ایا ژبه بیالوجیکي او سایکالوجیکي پدیده ده او که ټولنیزه پدیده ؟

دځېنو پوهانو له خوا ژبه یوه بیالوجیکي پدیده ګڼل شوې او دا یې د انسان د ژوندانه له داسې پدیدو سره په یوه ډله  کې راوستې لکه د خوراک، څښاک، ګرځېدا او نور استعدادونه چې انسان یې لري، د دغې نظریې له مخې دا تصور منځته راځي چې ژبه د انسان په وجود کې یو بیالوجیکي ترکیب دی او په ارثي توګه نقل کېږي.

پورتنۍ نظریې ته ب.ن.ګله وین دانتقاد په سترګه ګوري او په دې برخه کې یې لیکلې دي:ځوک چې ژبه له بیالوجیکي منشا څخه بولي له حقیقت موندلو څخه ګوښه پاتی شوی دی  اوس پوره څرګنده شوه چې ژبه نه په وراثت انتقالیږي او نه له مشرانو څخه کشرانو ته په دغه ډول ځي لکه ځېنې نژادي او بیالوجیکي نښې نښانې د بېلګې په ډول: د ویښتانو رنګ، د مخ بڼه او همداسې نور چې په وراثت نقل کېږي.

دپورتنۍ مدعا د ثبوت له پاره ځېنې نور دلایل په لاندې ډول راوړل کېږي:

هرماشوم چې لومړی په خبرو کولو شروع کوي نو د مور وپلار په ژبه باندې خبرې نه کوي بلکې هغه ژبه زده کوي چې زياته اړتيا ورته لري دا نو هغه ژبه ده ، چې په چاپېريال کې يې ويل کيږي او د خلکو ترمنځه د اړيکو او ارتباط پيداکولو وسيله وي،هغه وخت چې د کورنۍ، مور وپلار او د چاپېريال ژبه يې يوه وي په دې وخت کې چې ماشوم د مور و پلار په ژبه خبرې کول پيل کوي د دې خبرې معنا دا نه ده ،چې ماشوم د مور و پلار په ژبه شروع وکړه او د مورو پلار ژبه يې زد ه کړه د دې معنا دا ده چې ماشوم د خپل چاپيريال د ژبې په زده کولو شروع کړې او د خپل چاپېريال ژبه يې زده کړې ده، دلته په دې برخه کې له مور وپلار څخه يې ژبه په ارثي ډول نه ده زده کړې او د وراثت پکې هېڅ اغېز نشته تراوسه پورې په نړۍ کې داسې ډېر ليدل شوي چې يو چينايي ماشوم مخکې له دې چې خپله مورنۍ ژبه زده کړي انګليسي ژبه يې زده کړې ځکه چې په چاپېريال کې به يې هغه خلك وو چې په انګليسي ژبه به يې خبرې کولې يا دا چې روسي ماشوم مخکې له دې چې روسي ژبه زده کړي فرانسوي ژبه يې زده کړې وي او داسې نور...)) (لودين،۱۳۹۵ل)

د دې خبرې د ادعا له پاره غواړم ، چې يوه ژوندۍ بېلګه راوړم چې د ژبې ټولنيزوالي يې له شك پرته مونږ ته په ثبوت رسولی دی. پر (۱۹۷۷م) کال په هندوستان کې دوې نجونې ومونډل شوې ، چې ډېر وخت يې له انسانانو څخه لرې د بېزوګانو سره تېر کړی اوله دوی سره لويې شوې وې ، کله چې دا دواړه نجونې له بېزو ګانو څخه راخلاصې شوې او انساني ټولنې ته راوستل شوې، نو دوی نه شو کولای چې خبرې وکړي او يا دا چې د نورو انسانانو په خبرو پوه شي.

د دغو دواړو نجونو بيولوژيکي جوړښت د نورو انسانانو په شان و، خو نه يې خبرې کولی شوې او نه د نورو په خبرو پوهېدلې ، دليل يې دادی چې دوی له انساني ټولنې څخه لرې شوې وې، چې ژبه يوه ټولنيزه پديده ده ، چې د محتوا اوفورم پرمختګ يې د ټولنې له

پرمختګ سره ټینګې او نه شلېدونکې اړیکې لري او کومې څېړنې او پلټنې چې، د ژبې په باره کې شوې دي موږته راښیي ، چې د انسانانو ژبه به د میلینونونو کلونو په تېرېدوسره اوسني اکر ته رارسېدلې ده. ځواب به د اوي همدا ژبه ده ، چې انسانان له نورو حیواناتو څخه بېلوي ځېنې پوهان وایي: که څه هم ژبه د مفاهمې خورا مهمه وسیله ده اوله مفاهمې څخه پرته هېڅ کار شونی نه دی. ویلی شو، چې د ژبې او ټولنې اړیکه دا ده ،چې هېڅ ژبه بې ټولنې نه شي منځ ته راتللی، ژبه یوټولنیز توکی ګڼلی شو،ځکه چې په ټولنه کې زده کیږي او هم په همدې ټولنه کې انکشاف او وده کوي.(اکرام،۲۰۱۸م) . د پورتنۍ څرګندونې پر اساس ویلی شو، چې ژبه بیالوجیکي پدیده نه ده او نه یې بیالوجیکي پدیده ګڼلی شو.

د ژبې دسایکالوجیتوب نظریې: ځېنې پوهان وایي چې ژبه یوه سایکالوجیکي پدیده ده او د انسان له روح سره سمه پید اشوې،پورتنۍ نظریه عملي نه ده ګڼل شوې او دعملي دلایلو په واسطه تردید شوې ده په دې برخه کې ویل کیږي که ژبه د انسان د روح له پیداکېدو سره سمه پیداکېدای ، نو دهر چا ژبې به په بېل بېل او ګوښه ګوښه ډول وده او انکشاف کړی و، د یوه نفر ژبه به بل ته ورته نه وای او نه به د خپل چاپېریال د خبرو داغېزې لاندې راتلای که یې چاپېریال کې هر ډول ژبه وای نه به چاپېریال پرده اغېزه کولای او نه به ده په خپل چاپېریال کوم تاثیر درلودای.

دغې نظریې ته چې وکتل شي نوناسمتوب یې له ورایه جوت دی، ځکه لکه څنګه چې تراوسه پورې له تېرو لیکنو څخه په ښه ډول څرګنده شوې ،چې انساني ژبه له انسان څخه د باندې منځته راځي او د ودې کولو زانګو یې ټولنه ده ، چې د خلکو د ویناوو تر اغېزې لاندې پرمختګ کوي او پراختیا مومي په دې برخه کې په زغرده ویل کیږي ، چې ژبه سایکالوجیکي پدیده نه ده.

له دې څخه څرګندېږي ، چې ژبه په هغه وخت کې پيدا کيږي ، چې انسانان په ټولنيز ژوند کې يوبل ته دهمکارۍ کولو اړتيا حس کړي ، ځکه د دغې اړتيا په سبب سره په اړيکه کې کيږي او د دوی ترمنځه ژبه د ژوند تېرولو يومهم اړخ ګرځي، څرنګه چې ژبه او ژوند سره تړل کيږي په دغه سبب د ژوند له پراختيا سره ژبه هم پراختيا مومي .د دغه اساس له مخې ژبه هغه وخت تغير مومي چې په ټولنيز ژوند کې تغير پېښ شي، کله چې ټولنيز فعاليت بله بڼه ځان ته غوره کړي اود ټولنيز ژوند په بېلا بېلو اړخونو کې بدلون راشي ژبه هم ورسره سمه بد لېږي، نوي لغات او نوي اصطلاحات منځته راځي او د ژبې لغوي پانګه له پخوا څخه په بل څېر کيږي، ژبه په انساني ټولنه کې له نورو ټولنيزو پديدو سره لکه: صنعت،تخنيک،علم،زېربنا،روبنا،ذهنيت اونورو سره توپير لري(لودين،۱۳۹۵ل).

د انسان پېژندنې له علم سره د ټولنيزې ژبپوهنې تاريخي ګډ مناسبات په څېړنو کې مشاهده کېدای شي ، چې څرنګه دژبې ډولونه دهغو ډلو ترمنځ چې د ټولنيزو بدلونونو په واسطه بېلې شوې دي.توپير لري لکه:توکم، دين، حالت، جنسيت، دزده کړو کچه، عمراو داسې نورو اويا د جغرافيوي خنډونو لکه: دغرونولړۍ، يوه دښته، يوسيند اوداسې نورداڅېړنې همدارنګه ازمايي يا څرګندوي ، چې څرنګه دا توپيرونه په کارونه اودکارونې په اړه په باورونو کې ټولنيزې يا ټولنيزې اقتصادي ډلې يا ټولګی توليدوي.

او انعکاس ورکوي ، لکه څرنګه چې د يوې ژبې کارونه له يوه ځايه تربل ځايه توپير لري د ژبې کارونه د ټولنيزو پاړکو يا ټولګيو ترمنځ همدارنګه توپير لري او دا همدغه (sociolects) دغير معياري لهجې يو ډول دی، چې ټولنيزه ژبپوهنه يې څېړي.

## د ژبې اوټولنې اړيکې

ژبه په حقيقت کې هغه ورشوده ، چې په هغه کې په ټولنيز ډول انساني کلتور وده کوي.که چېرې ټولنه شتون نه لري.ژبه چې دبشري کلتور يو ډېر مهم او داهميت څخه ډک ارزښت دی نه يوازې داچې په يوه بشري ټولنه کې موجوديت لري بلکې دانساني کلتور دځرګندولو اوپرمختګ په ټولنه باندې اغيزښندې.پوهان په دې نظر دي چې د ژبې تاريخ د ټولنې له تاريخ سره ټينګ تړلی دی .په ټوله کې د ژبې د پرمختګ او د ټولنې د پرمختګ په منځ کې يووالی موجود دی. يوه وروسته پاتې ټولنه يوه وروسته پاتې ژبه ښيي.

دپورتنۍ ځرګندونې په اساس ويلای شو ، چې هغه ټولنه چې په اقتصادي،علمي،کلتوري او تخنيکي اړخه پر مخ تللې وي دهغې ژبې تاثير په خورا اسانۍ سره د وروسته پاتې هېوادونو په ژبه کې ليدل کېدای شي او داهغه څه دي، چې موږ يې په خپل ورځني ژوند کې محسوسوو.

دپوهانو له پورتنيو ځرګندونو څخه دامعلومېږي چې ژبه او ټولنه يوه له بلې څخه نه شي جلا کېدای.ژبه که د يوې خوا دوګړو ترمنځ دپوهولو راپوهولو جريان مخ ته بيايي نو دټولنيز ژوند دلاښه کولو چارې هم خلکو ته ورښيي او هم يې انسجاموي دا هغه څه دي چې دژبې اهميت په ګوته کوي او داراښيي ، چې که ژبه نه وي ، نو انساني ژوند به هم نه وي.

په ځينو باوري اثارو کې،چې د پوهانو،څېړونکيو او مجربو ليکوالانو د اوږدو پلټنو او څېړنو محصول دي د ژبې په باره کې ويل شوې دي ، چې ژبه د صوتي سمبولونو يو داسې اکتسابي او قراردادي سېستم دی، چې د يوې ټولنې غړي يې د خپلو مفاهيمو له پاره كاروي.

که د ژبې پورتني تعريف ته لږ ځيرشو، نو ويلای شو، چې ژبه داسې پديده ده ، چې په يوه بشري ټولنه کې شتون لري. دوی دواړه يوه له بلې څخه نه شي جلا کېدلی او يوه په بله باندې متقابل اغېز هم لري.ځېنې پوهان خو داسې وايي ، چې ژبه داسې الفاظ او کلمات دي،چې دهغو په واسطه خلك او ولسونه يوبل ته خپل مطالب څرګندوي او د خپلو موخو تعبير هم پرې کوي.

پورتنۍ توضيح دا جوتوي ، چې ژبه په هر فورم کې چې وي اصلي د نده يې د وګړو او خلکو په منځ کې پوهول را پوهول دي. ولسونه او خلك په هره بڼه چې وي ټولنيز ژوند کوي او په يوازې ځان نه شي کولای چې خپل ژوند ته دوام ورکړي د همدې درک پر بنسټ موږ ويلی شو ، چې ژبه او ټولنه نه شي سره بېلېدلی، يوه له بلې سره تړلې ده. (تڼيوال،۱۳۹۴ل)

په نړۍ کې تر دين وروسته ډېره حساسه مسله د ژبې ده. ويل کيږي ، چې يو وخت دفرانسې او انګلستان ولسمشرانو غونډه درلوده.که څه هم يو دبل په ژبه ښه سره پوهېدل خو ددې له پاره چې خپلې ژبې ته ارزښت ورکړي هر يو به هڅه کوله، چې په خپله مورنۍ ژبه وغږيږي.

ښښتن تعالی انسانانو ته ګڼ شمېر نعمتونه په برخه کړې دي، چې له دې څخه يوه يې هم ژبه ده. د ژبې د پيدايښت او ارزښت په اړه دالله تعالی په عظيم کتاب کې راغلي دي. (خلق الانسان علمه البيان) ددې ايت کريمه معنا دا ده ،چې الله پاك لومړی انسان پيداکړ او بيا يې ورته د خبرو کولو توان ورکړ، يعنې انسان ته لومړی ورکړل شوې ډالۍ اونعمت د دوی وجود او ورپسې يې ژبه ده.(غوربندی،۱۳۹۹ل)

دا چې د ژبې د پیدایښت کره او څرګنده نېټه تر اوسه پورې نه ده معلومه د قرانکریم د پورته ایت کریمه او ګڼو نورو ایتونو څخه یې ځینو مسلکي اشخاصو ته دغه اړونده پوښتنې تر ټولو ښه ثبوت کېدای شي.

## د ژبې د کارونې ارزښت

د ژبپوهانو په اند ژبه په ټولیيزه توګه دشپږو توکونو لرونکې ده،چې دغه توکي په ترتیب سره له (وضاحت، اقتصاد، قباحت، ګونګتیا، ځواک اوښې)څخه عبارت دي.د لته له وضاحت څخه موخه داده،چې ایا اورېدونکی په بشپړه توګه د ویونکي په موخه او هدف پوه شوی یا هرڅه ورته څرګند شوي که نه؟ دژبې له اقتصادي ځانګړنې څخه موخه داده چې نېغ په نېغه اوپه ساده ژبه اورېدونکي ته خپل مطلب رسول، په دې معنا چې په وینا اوخبرو کې له پرحرفۍ ډډه کول،مستقیما په لنډو ټکیو کې خپل مطلب او مفهوم رسول بل ژبنی توکی قباحت دی، له دې څخه موخه داده چې په وینا او خبرو کې په ژبه کې داسې لغتونه او کلمې نه کارول چې اورېدونکی او لوستونکی یې له اورېدو سره د شرم او حقارت احساس وکړي.ګونګتیا یا مبهمه ژبه بله ژبنۍ ځانګړنه اوتوک دی،چې یوه ځانګړې ډلګۍ یا مشخص کسان په وینا اوخبرو کې داسې رمزي لغتونه او اصطلاحات کاروي ، چې شا و خوا کسان د فصیحې او بلیغې ژبې په لرلو سره مخاطبین او نور اړوند کسان ترخپل اغېزلاندې راولي او په پایله کې په هغوی باندې خپلې غوښتنې پلې کوي.

ژبښه اوګړدود بل ژبنی توک او ځانګړنه ده، چې د یوې ټاکلې ژبې ویونکي په بېلابېلو ځایونو او موقعیتونو کې کاروي،کله کله د دغسې ژبښو (لغتونو) لیکنۍ بڼه یو شان یوازې ادا ینه او تلفظ یې فرق کوي. خوکله بیا داسې هم کیږي،چې یوهدف په دوو ګړ دودونوکې په دوه بېلو بڼو او لغتونو سره بیانیږي.

د ژبې له کارونې څخه زموږ موخه په وينا اوخبرو کې دهغو لغتونو ټاکنه ده، چې په خپله ليکنۍ ياشفاهي وينا کې يې کاروو.دلته زموږ موخه ليکنۍ اوشفاهي ژبه ده. يو څه دلته د يادولو وړدي، چې وينابيزه ژبه تر ليکنۍ ژبې ډېره د مخه رامنځته شوې ده.په اوسنۍ نړۍ کې د ژبې اغېزمنه کارونه موږ سره په کور او ټولنه کې د شخصي اړيکو په ټينګولو کې مرسته کوي همدارنګه په اغېزمنه توګه د ژبې کارونه به موږ سره مرسته وکړي، څو د خلکو ترمنځ مطرح او خلک تر خپل اغېزلاندې راولو.

د ژبې په اغېرمنې کارونې سره مهم نقش لغتونه او هغه معناوې لوبوي چې دهمدغو لغتونو په واسطه لېږدول کيږي.په ټوله کې دغه لغتونه له وينابيزو غږونواو دهغوی له ليکنيو بڼو(تورو) څخه رامنځته شوي، چې دواړه يې په ګډه افکار، نظريات او يادښتونه لېږدوي. دلته به په هغو برخو هم بحث وکړو، چې د ژبې کارونې ارزښت په ډاګه کوي.

ژبه دغږونو لرونکې ده:په نړۍ کې ټولې ژبې چې د ټاکلو غږونو لرونکې دي،چې هرغږيې په ټاکلي سېمبول سره ښو دل کيږي.ديادونې وړده اشاري ژبې له دې ځانګړنې بې برخې دي،ځکه يادې ژبې په ځانګړې توګه دهغو کسانو له پاره رامنځته شوي چې ګونګيان دي او له خپلو غږيزو غړو څخه کار اخېستلی نه شي.

ژبه ارتبا طات ټينګوي: ژبه په نړۍ کې د شته انسانانو ترمنځ داړيکو نيولو او ټينګولو وسيله ده.ژبه دانسانانو له پاره داحساساتو، افکارو، اميدونو، اړتياوو او نظرياتو د څرګندولوتر ټولو اسانه لار ده،دژبې په مټ يو څوک کولی شي په اسانۍ سره خپل پيغام او هدف ترنورو ورسوي.

ژبه سمبوليکه پديده ده. ډېری وختونه داسې هم کيږي، چې ژبه په لغوي معنا سره نه ژباړل کيږي.لامل يې دادی چې سېمبولونه او اشارې په ژبه کې له ځانګړي ارزښت څخه

برخمن دي.سېمبولونه او اشاري ډېری د شاعرانو له لوري د اشعارو د ښکلا اوژبني زړه راښکون له پاره کارېږي.

ژبه ذاتي پديده ده:په نړۍ کې ټولې ژبې اوسنۍ نه دي، په دې معنا چې په دې نړدې وختونو او کلونو کې رامنځته شوې نه دي هره ژبه نوي نسل ته دخپل تېر نسل ميراث او امانت دی.له همدې کبله ويل کېږي چې ژبه د دويزو،عرفي او فطري ځانګړنو لرونکې اوليږدونکې ده.

ژبه د لرليدونو اوليدلورو ليږدونکې ده:په دې معنا يوه ژبه کې ښايي يو هدف يا موضوع په يو ډول اوپه بله کې ممکن هماغه هدف په بل ډول بيان او تشريح شي.له همدې کبله يو لغت په بېلابيلو ژبو او مختلفو کلتورونو کې بېلابېلې معناوې او مفاهيم څرګندوي.نو ويلی شو، هېڅ داسې ژبه نه لرو ، چې د يولغت لغوي معنا دې په مختلفو ژبو کې يوشان يا سره ورته وي داځکه چې زموږ دژوندانه بېلابېل اړخونه په مستقيم يا غيرمستقيمه بڼه له ژبې او دژبې له  کارونې سره تړاولري.

ژبه د کلتور زړه ګڼل کېږي: که کلتور له يوه کورسره ورته وګڼو، نوژبه يې دعمومي دروازې کيلي ګڼل کېږي، چې له مخه يې دکور دننه ټولو دروازو اود ننني برخو له لار مونډلی شو ژبه له کلتور سره نېغ په نېغه اړيکه لري، په دې معنا کله چې ژبه لولو؛ نو کلتور ورسره حتما لوستل کېږي،همدارنګه کله چې کلتور لولو نو له ژبې پرته يې لوست ناشونی دی.له همدې کبله انسان پېژندونکي د کلتور تر مطالعې دمخه د ژبې مطالعه يو اړين شرط ګڼي.

ژبه کلتورونه يو له بله جلا کوي: هره ټولنيزه ډلګۍ چې د ځانګړې ژبې يا ګړدود لرونکې وي، نو ځانګړی کلتور هم لري ژبې دکلتورونو د توپير او تفکيک يو له مهمو توکونو څخه ګڼل کېږي.همدارنګه ژبې ټولنې او سيمې هم يو له بله توپيروي.

ژبه دیوه قوم د پېژندنې او تاریخ څرګندویه ده: هغه ژبې چې اوس مهال یې موږ کاروو، له پېړیو راهیسې کارېدې، د دغو ارزښت له دې کبله زیات دی، چې د اړوندو قومونو دتاریخ کړو وړو اوپېژند ښکارندویې کوي.له دې ځایه داپه ډاګه کیږي، هغه ټولنې چې ګډه ژبه یا ژبې لري، نوتاریخ یې هم ګډ او مشترک دی.

ژبه انسانان له ژویو څخه جلا کوي: انسانان له کړوالې ژبې څخه په ګټې اخیستنې په رسمي یا غیررسمي بڼه یو له بل سره اړیکې نیسي او په پایله کې خپلمنځي مفاهیم،غوښتنې او پوښتنې سره شریکوي.د دې برعکس ژوي بیا یو له بله د اړیکو نیولو له پاره له بېلابېلو اشارو او غبرګونونو څخه کار اخلي.

ژبه د پرمختګ په لور دخوځون یواځینۍ لارده:دبېلګې په توګه که یادونه وکړو په ډبرین پیر کې انسانانو ژبه نه لرله یا نه کاروله نو ځکه ټکني، ساکن او هېڅ یې نه کاوه خو کله یې چې له ژبې څخه کار اخیستنې او استفادې ته مخه کړه، نوراز راز پرمختګونو ته یې لار ومونده اوهغه یې خپل کړل.نو له همدې ځایه ویلی شو چې دافکارو او نظریاتو څرګندتیا هم له ژبې څخه داستفادې سره مله رامنځته شوې ده.

ژبه دتخلیق او زده کړې وسیله ده: ژبه د انسانانو تر منځ د زده کړې بنسټیزه او اساسي وسیله ده.ما شومان له زېږون وروسته بیا له ژبې څخه په استفادې سره نورې انګېرنې او تصوراتو هم زده کوي.له دې څخه دا څرګندیږي چې د تصوراتو او انګېرنو زده کړه، د ژبې له زده کولو څخه وروسته صورت مومي.بله بېلګه یې داسې راوړلی شو چې انسانان نسبت دویمې او نورو ژبو ته یوازې په خپله لومړنۍ او مورنۍ ژبه هر څه په غوره او ښه توګه زده کوي.

ژبه د پېژندنې احساس رامنځ ته کوي. تردې دمه په ټوله نړۍ کې په زرګونو ژبې شته چې په زرګونو او میلیونونو ویونکي لري، نوله دې ځایه څرګندیږي دنړۍ هر هېواد د

یوې یا څو ګڼو خپلواکو ژبو لرونکی دی.په دغو هېوادونو کې داسې ژبې هم شته چې دیو هېواد په بېلا بېلو ټولنیزو ډلګیو پورې تړاو لري یا یوه ژبه په څو هېوادونو کې ویونکي لري.دا منو چې په نړۍ کې ګڼې او په زرګونو ژبې شته، خو د یوې ژبې ویونکي په وینا او خبرو کې یوازې هغه مهال دراحتۍ احساس کوي، چې مخاطبین یې د ده د مورنۍ یا ورته بلې نږدې ژبې ویونکي وي.په یوه یا ورته ژبې یا ژبو خبرې کول هغه څه دي چې واټنونه کموي او ساکن حالت په خوځښت بدلوي.

ژبه یوه انساني تجربه ده: ژبه یوازې او یوازې په انسانانو پورې مختصه ده. نور ژوندي موجودات له داسې ژبنۍ ځانګړنې یا ژبې بې برخې دي ، چې انسانان ځنې ترې ګټه اخلي. له ژبې پرته سربېره پردې چې انسانان د ځان په هکله څه ویلی نه شي، بلکې تر څنګ یې یو له بله خپلمنځي اړیکې هم ټینګولی نه شي دا په دې معنا که ژبه نه وي ،ټولنې به نه وي او حتی مذهبونه به هم ورسره محوه شي .دژبې په مټ زموږ د نړۍ واړه چارې پرمخ درومي د ژبې په مټ سیاسیون خپلې برنامې او اهداف درسنیو له لارې له اورېدونکیو او خپلو مخاطبینو سره شریکوي.

ژبه د افکارو او احساساتو ښکاروندویه ده: انساني ژبه هغه یواځینۍ وسیله ده،چې دانسانانو افکار او خیالات لکه څنګه ، چې دي همغسې څرګندوي.همدارنګه ژبه له انسانانو سره مرسته کوي،څو خپل افکار او احساسات یو له بله تفکیك او په بېلا بېلو نومونو(خوښي،درد،رنځ ،سوله،مرګ...) سره ونوموي.له همدې کبله ویل کېږي، چې انساني ژبه په اسانۍ سره د درک وړده.په ژبه او ادبیاتو کې په زرګونو ادبي توکي او لاسوندونه د ژبې د ارزښت او اهمیت ښکارندویي کوي او له همدغو ادبي توکو څخه په ګټې اخېستنې سره انسانان خپل افکار ،هیلې،امیدونه،اړتیاوې او نظریات په بېلا بېله توګه څرګندوي.

ژبه دزده کړې بنسټ تشکيلوي: زده کړه هغه يوازينۍ لار ده ، چې له مخې يې انسانان لوييږي او د پرمختګ په لور کوټلي ګامونه پورته کوي.کوچنيان خپلې کورنۍ ا و مشرانو ته په کتو له هغوی څخه ژبه زده کوي.د ژبې زده کړه د ټولنې او کلتور دواړو له پاره مهمه ده.ژبه له کوچنيتوب څخه ترزړښته پورې ټولو اشخاصو سره د هغوی د خيالاتو او غوښتنو په څرګندولو کې رغنده نقش لوبوي.

ژبه دسوداګرۍ او راکړې ورکړې وسيله ده: ژبه د اقتصاد او نړۍ والو اړيکو له پاره يوه له مهمو او ارزښتمنوپديدو څخه ګڼل کيږي.دغه راز اړيکې به له وروسته پاتوټولنو او هېوادونو سره مرسته وکړي، څو د پرمختللو هېوادونو له تجربو څخه په استفادې ځان لوړو پوړيو ته ورسوي.دهمدې ژبې له برکته نن سبا نړۍ او په کې شته هېوادونو د يوه کلي بڼه غوره کړې ده.

ژبه د فردي او انفرادي پرمختګ لامل کيږي: ژبه فردي ځواک پياوړی کوي.کوچنی د ژبې دزده کړې پرمهال ورځ تربلې دهغه چاپېريال او شا و خوا خلکو له ژبې څخه اغېزمنيږي،په کوم ځای کې چې ژوند کوي ژبه يو ځانګړی فرد له پاتې نړۍ سره نښلوي.

ژبه دژبې دزده کړې له پاره مهمه ده: هره ژبه بايد د ژبې د زده کړيال له لوري په پرله پسې توګه تکرار او تمرين وشي،ترڅو نوي لغتونه،اصطلاحات،تلفظونه او ژبني مهارتونه په سمه توګه وکاروي.

ژبه داړيکو نيولو لومړنۍ تګلاره ده:ژبه ددې له کبله مهمه او ارزښتمنه ده،چې دانسانانو ترمنځ دارتباطاتو او اړيکو نيولو لومړنۍ تګلاره او مېتود ګڼل کيږي.

ژبه ګڼې انساني ځانګړنې لري: ژبه ځکه ارزښتنمنه پديده ده، چې له کلتور سره نږدې او نه شلېدونکې اړيکې لري.

دژبې بله ځانگړتیا:چې په کارونې سره یې مخاطب تر خپلې اغېزې لاندې راولي او دځانې وضاحت له پاره تر ټولو مهمه برخه ګڼل کیږي.

دژبې ارزښت له دې هم څرګندېدلای شي کله ، چې یو څوک په دوه یا څو ژبو پوهیږي، نو په اسانۍ سره په دولتي او نورو ادارو کې دنده ترلاسه کولی شي.البته اوسنیو ژبپوهانو د نورو یا بلې ژبې د زده کړې اړتیا د ذهني پیاوړتیا او ځواکمنتیا له پاره هم اړینه بللې ده.په دې بر خه کې ویلی شو، چې دګڼو ژبو زده کړه موږ ته دا توان رابخښي چې، د نورو کلتورونو سره مو اشنا کړي.

د ژبې د ټولنیزتوب په برخه کې دپوهانو ترمنځ هم بېلا بېل نظریات مو جودوو، ارستو داپلاتون پر خلاف نظر درلود ، چې ژبه یې فطري نه بلکې یوه ټولنیزه او کسبې پدیده ګڼله چې البته تر اوسه پورې پخوانیو او معاصرو ژبپوهانو ته ذکرشوی نظر د منلو وړ دي. (ربنتین زیور،۱۳۷۲ل)

**پایله**

د ژبې د ټولنیز ارزښت په اړه ویلی شو، چې ژبه د ټولنې سره نېغ په نېغه اړیکه لري او هره انساني ژبه د هماغې ټولنې پیداوار ګڼل کیږي ژبه اړوند چاپېریال کې رشد او انکشاف کوي.

د پرمختللیو ټولنو ژبو چې وده کړې او د بین المللي معیارونو په ډله کې شمېرل شوې دي ،هغو ټولنو د ژبو د غښتلتیا او مشهورتیا له پاره ډېرې تودې سرې ګاللې دي پرته له شکه د مهذبو ټولنو اغېز پرژبو هم بارزوي.د ځېنو عالمانو په وینا چې د ژبې په و اسطه ټولنه او د ټولنې په مرسته ژبه مطالعه کولی شو، نو دهرې ټولنې استازولي هماغه موجوده ژبه کوي.

دژبې د پیداکېدو سرچینه د ټولنې د وګړو د استوګنې او فعالیت کولو چاپېریال دی او هره ژبه په خپل چا پېریال کې پراختیا کوي؛ نو د همدې ځایه ویلی شو، چې ژبه د انسانانو په ټولنیز ژوند پورې تړلې ده ، د ژبې د ټولنیزژوند او د کارونې ارزښت یې چې لا نړۍ وال توب پیدا کوي او پرمخ ځي نو د ټولنیز ژوند په بېلابېلو برخو کې باید بدلون تر ستر ګو شي ، ځکه چې د ټولنیز ژوند د بدلون سره د ژبې پرمختګ هم بدلون کوي.

**وړاندیزونه**

د ژبې د ارزښت په اړه دې د مسلکي اشخاصو له خواعامه پوهاوی اوهم منظم سمینارونه تدویراودایر شي.

د مورنۍ ژبې د ارزښت په او ونډې لرنې په موخه دې ښوونیز او روزنیز ورکشاپونه پر لار واچول شي.

د ژبې په پرمختګ کې د ټولنې رغنده رول په تړاو دې په پوهنتونونو کې محصلینو ته د ساحوي څېړنواوعملي کار په بڼه منظمې دندې ورکړل شي.

د ژبې د ټولنیز ارزښت او کارونې په برخه کې دې په علمي او اکاډمیک مرکزونو کې زده کړیالانوته پایلیکونه ورکړل شي.

**ماخذونه**

اکرام،بشری.(۲۰۱۸م). ژبپوهنه. پېښور:فاسټ ټریک کمپو نیکېشن.

تڼیوال،مولاجان.(۱۳۹۴ل).ژبه او ټولنه.جلال اباد:مومند خپرندویه ټولنه.

جبارخېل،عزیزالله.(۱۴۰۱ل).ګړدودپوهنه.جلال اباد:هاشمي خپرندویه ټولنه.

رښتین زېور،زرغونه.(۱۳۷۲ل).پښتو نحوه.جلال اباد:ساپی خپرندویه ټولنه.

غوربندی،میراجان.(۱۳۹۹ل).دڅېړنې مبادي.کابل:جهان دانش خپرندویه ټولنه.

لودین،دولت محمد.(۱۳۹۵ل).ژبه او ټولنه.جلالکوټ:ختیځ خپرندویه ټولنه.

لودین،دولت محمد.(۱۳۹۵ل).ژبه او ټولنه.جلالکوټ:ختیځ خپرندویه ټولنه.